مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ډاکټر عبدالقیوم مومند ۲۰۲۰/۰۲/۲۳

# سوله

د افغان ملت د څلويښت کلنې جګړې د بربادیو څخه وروسته یو نوې حساس وخت ته رسیدلی دی چې لۀ یوې خوا پکښې د سولې د راتللو رڼا لیدل کیږي او لۀ بلې خوا دا ملت خپلو مسوولیتونو ته متوجه کوي. افغان ملت باید د داسې یوې سولې غوښتونکې اوسي چې نه یوازې دا ملت پرته لۀ جنګ او جګړې په چاپیریال کې ژوند وکړای شي، بلکې داسې یو نظام رامینځته شي چې بنیادونه او ارزښتونه یې د یووالې، سوکالی، پرمختیا او د عدالت پر اصولو ټینګ ولاړ وي. سوله باید یوازې د امریکایانو او طالبانو ترمینځ د ډزبندی مانا ونلري، بلکې یوه هراړخیزه ریښتنې او تلپاتې سوله رامینځته کړي. د افغانستان سیاستوالو ته د افغانستان ملي ګټې کوم ارزښت نه لري، یوازې خپل سیاسي قدرت او شخصي ګټې ورته لومړیتوب لري. ولسمشریزه ټاکنې او پایلې یې غوره بیلګه ده. ملت باید زیرک او هوښیار اوسي چې د دې موقع څخه د دې ملت د سوکالی او آبادی لپاره ګټه اخلې او بیا تیرو ترخو تجربو ته د تکرار موقع ورنکړي ترڅو دا ملت یوځل بیا د بې اتفاقی، بربادی او جګړې کندې ته ونلویږي.
زموږ د ټولنې په رغاونې او پرمختګ کې زموږ ذهنې وده او پراخوالی مهم توکی دي او دا اړینه ده چې له دې ذهنې ودې څخه په شخصي خوی او کړنو او ټولنیزو اړیکو او مسوولیتونو کې کار واخلو. زموږ دین او زموږ کلتور زموږ د ځانګړې، کورنې او ټولنیز ژوند، دولت او حکومت لپاره عمومي لارښوونې لري. څنګه چې د انسانانو ژوند د بدلون او پرمختګ په حال کې دی، لۀ دې امله موږ باید د وخت او حالاتو له غوښتنې سره سم د اسلامي لارښوونې په رڼا کې د خپل ځان، ټولنې او خاورې په هکله اړونده فیصلې وکړو. په تیرو څلویښتو کلونو کې دې ملت دا راز فیصلې محدودو جنګې ډلو، جنګسالارانو، سیاسي تجارانو، او پردیو ګټو ساتونکو او حامیانو ته پریښې وې. موږ باید نور پرېنږدو چې سیاسي او جهادي ټیکه داران او پردیاله یوځل بیا د افغان ملت په راتلونکې لوبې وکړي او د سیاسي خیرات د نوي دسترخوان څخه نوې قتری ترلاسه کړي.
د سیاسي ثبات، تلپاتې سولې او د افغانستان د ټولو وګړو د حقونو د ننګې او تضمین په خاطر اړینه ده چې په راتلونکې کې د داسې یو سیاسي جوړښت او دولتې نظام بنسټ کښینودل شي چې د تلپاتې سولې ترڅنګ، خپلواکی، ازادي، غښتلی ولسي سیاسي نظام، بشپړ اساسي قانون او ټولنیزعدالت یې بنیادي ارزښتونه وي.
دا اړینه ده چې د افغانستان راتلونکی نظام د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د زور او زیاتې نه خالي او د ازادی پر اصولو ولاړ وي. آزادي د انسانانو طبیعي حق دی. له دې کبله لوی څښتنﷻ انسان اشرف المخلوقات، خپلواک او آزاد پیدا کړی. بل انسان، حتی که واکمن هم وي، هیڅ حق او صلاحیت نه لري چې د بل انسان د ژوند لپاره محدودیتونه وټاکي. د انسانانو د ژوند په اړه فیصلې یوازې د لوی څښتنﷻ د اوامرو په لارښوونه کې جواز لري او له دې څخه بهر د تصمیم او پریکړې جواز نشته. انسان د خپل فکر، خپل ژوند او خپلې شتمنی پوره واک لري چې د هیڅ دنیایي زور پیرو نه دی. دا انسان ته د لوی څښتنﷻ لخوا یوه ورکړل شوې پیرزوینه ده.
افغانان باید د یو داسې نظام د راوستلو غوښتنه وکړي چې په هغې کې خپلواکي او آزادي د سپیڅلتوب (پاکوالي) او ساتنې (امنیت) د اصولو پراساس ولاړه وي. لوی څښتنﷻ انساني حیثیت او عزت ته ډیر لوړځای ورکړی او په انسانانو یې امر کړی چې یو د بل حیثیت او شرافت وساتي، یو پر بل تیری ونکړي او یو بل ته په سپک نظر ونه ګوري. لوی څښتنﷻ په قرآن عظیم الشان کې فرمائي. وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ... ژباړه: او خامخا په تحقیق ډیرعزت ورکړی دی مونږ اولاده د آدم ته... کله چې د یو انسان پر خپلواکی او ارزښتونو تیری کیږي نو دا ټولنې ته تیری او سپکاوی بلل کیږلي. کله چې اسلام د انسان د ژوند، عزت او شتمنی ضمانت کوي نو دا د حکومتونو او چارواکو مسوولیت دی چې ساتنه او پالنه یې وکړي.
افغانان باید د داسې یو نظام د راوستلو هلې ځلې ګړندۍ کړي چې د فکر او نظر د ازادی حقونه پکښې خوندي وساتل شي. اسلام موږ دې ته هڅوي چې د دنیا، آخرت، نړی او خپل چاپیریال په هکله څیړنې وکړو، خپل عقل په کار واچوو او د ځمکې پرمخ لۀ پیرزوینو څخه د انسانیت لپاره ګټه واخلو. موږ د دې قوت لرو چې له طبیعت څخه د ځان او ټولنې د ښیګڼو لپاره ګټه واخلو او د شونتیا تر بریده پورې یې د بشریت د ګټو لپاره راوڅرخوو. موږ دا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ټول هغه وخت کولای شو چې د چارو او کړنو په اړه قوي فکر وکړو، د ځان او ټولني د جوړښت او پرمختیا لپاره عملي گامونه پورته کړو. دا هرڅه د ټولنیزعدالت د رامینځته کولو او ټولنه د سوکالی په لور د وړلو لپاره ضروري رکنونه دی چې باید د افغان ملت د غوښتنو برخه وي.
افغانان باید د یو داسې نظام غوښتنه راپورته کړي چې په هغې کې د افغان ملت د وگړو لومړنی اړتیاوې پوره شي، عدلي نظام جاري شي، خلک د پرمختیا پر لور روان شي او سوله او امنیت تلپاتی واکمن شي. د داسې یو نظام غوښتونکي شي چې له ملي شتمنیو څخه د هیواد د وگړو د شریکې، بې قید او شرطه او عادلانه گټې لپاره کار واخستل شي. لوی څښتنﷻ ټولنیز عدالت د مسلمانانو د ژوند برخه او مسوولیت گرځولی دی چې د انساني ژوند هر اړخ پکې گډ دي. ټولنیزعدالت او ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او علمي پرمختگ یو پر بل پورې تړلي دي، یو بل پوره کوي، او د ټولني د روغ او رغنده جوړښت مهم توکی جوړوي. پرته د یوهٔ شتون څخه د بل شتون بې مانا او نیمگړی دی. کهٔ چیرې دا توکي په برابره اندولیزه توگه وړاندې ولاړ شي نو بیوزلي له مینځه ځي، د خلکو بنسټیزه اړتیاوې پوره کیږي، ملت د حکومت له زور زیاتي څخه په امن کې وي، په ورځنیو چارو کې فیصلې په عدل سره سرته رسیږي او انسان د فکري او جسمي خپلواکی په چاپیریال کې ژوند کوي. لوی څښتنﷻ د قرآن عظیم الشان په بیلابیلو آیتونو کې په عدل کولو حکم کړی او فرمایي چې عدل تقوی ته نږدې دی. اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ.
افغانان باید د داسې یو نظام غوښتونکي شي چې په هغې کې دا ومنل شي چې حکومتداري او چارواکي کول اصل او هدف نه دی، بلکې یوه وسیله ده. اصل د ټولني د وگړو د ظرفیتونو لوړول، د وړتیاوو پوره کول او پرمختگ دی. حکومت داسې یو ټولنیز حالت رامینځته کړي چې په هغې کې د ټولني ټول وگړي له فکري او جسمي پلوه خوندیتوب ولري او د قانون په سیوري کې پرته له ډار او ویرې څخه هوسا ژوند تیر کړي.
دا ټول حقوق موږ ته لوی څښتنﷻ راکړي دي. له معاذ ابن جبل(رض) څخه روایت دی چې رسول اکرمﷺ فرمایلي دي. لَا طَاعَةَ لِمَنْ لَمْ يُطِعْ اللَّهَ . ژباړه: د هغهٔ چا اطاعت نشته څوک چې اللهﷻ اطاعت نه کوي. همدارز بل ځای کې رسول اکرمﷺ فرمایلي دي. لاَ طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ. ژباړه: د مخلوق اطاعت د خالق په ناخوښی کې روا نه دی.
له دې څخه په زغرده څرگندیږي چې د ټولني او ولس وگړي د دې واک او مسوولیت لري چې د چارواکو د چارو څار وکړي او د هغوی په ټولو چارو رغنده نیوکې وکړي او سمې لارې ته یې برابر کړي. هر مسلمان مکلفیت لري چې په خپله ټولنه کې د بدو مخه ونیسي او د ټولني وگړي ښو او نیکو اعمالو ته وهڅوي. لهٔ ابوسعیدالخدري(رض) څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي.
أَفْضَلُ الْجِهَادِ مَنْ قَالَ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ أَوْ أَمِيرٍ جَائِرٍ. ژباړه: د جهادونو له جملې څخه لوی جهاد هغه دی چې د هغه پاچا یا چارواکي په مخ کې واقیعتونه ووایي او ربښتیا راڅرگنده کړي چې د حق او عدالت له لارې څخه لیرې شوي وي (غوره جهاد د ظالم حاکم په وړاندې د حق وینا ده).
په پای کې یوځل بیا یادونه په کار ده کله چې په اسلامي ټولنه کې د دولت، حکومت او چارواکو ستره موخه د انساني ژوند د ساتنې، پالنې او پرمختگ لپاره د نوو لاروچارو لټون، انسانانو ته خدمت کول، د ټولني د پرمختگ لپاره کارکول او په ټولنه کې د وگړیز او ټولنیزعدالت ټینگول دي، نو موږ هم اسلامي او ملي مسوولیت لرو چې د خپل حق او راتلونکې سوله ایز او سوکاله ژوند لپاره غږ پورته کړو او د یو ازاد او عادل نظام غوښتونکي شو.
سانتا انا، کلیفړنیا، د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د فبروري ۲۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ